# د هوس پراود Houseproud دلاربنود نقل

## هوس پراود Houseproud ته ښه راغلئ

که تاسې په خپل کور کې ترمیم، اصلاحاتو یا بدلونو ته اړتیا لرئ، هوس پراود Houseproud مرسته کولی شي.

مونږ پوهیږو چې د ودانولو د کار ترسره کول، ان د ناپوهو کارګرو له خطر او د کار د لګښت د پرېکولو په اړه له اندېښنو پرته هم ډېر وېرونکی وي. نو د حېرانۍ خبره نه ده چې ډېر کسان بېخي له دې کاره تېر شوي دي.

*هوس پراود* په مسلکي او بې جنجاله توګه د دغو کارونو د ترسره کولو لپاره خوندي او اسانه لار وړاندې کوي. که د ټول کار لپاره د پیسو برابرولو ګران وي، هوس پراود په دې برخه کې هم مرسته کولي شي.

د *هوس پراود* له لارې ډول ډول پورونه شته دي، چې نه یوازې ارزانه او د زړو او معیوبو کسانوله اړتیاوو سره سم دي، بلکه دا ضمانت هم ورسره شته دی چې که هرڅه پېښ شي، کور به مو به له لاسه نه وځي.

*هوس پراود* د یوې ډلې'غیر انتفاعي ' سازمانونوله خوا چلول کیږي چې مشري یې ستاسی کونسل کوي. د هغو یوازینی هدف د کور له هغو خاوندانو سره چې عمرونه یې 60 یا ترې جګ دي، یا له هغو کورنیو سره چې د هر عمر کوم معیوب غړی ولري ، مرسته کول دي چې خپل کورونه ترمیم، ښه او یا کوم بدلون پکې راولي چې وشي کولی پکې خوندي او خپلواک ژوند ته دوام ورکړي.

## هوس پراود څنګه کار کوي؟

هوس پراود له سره تر پایه د کور ښه کولو هر اړخیز خدمت په اخلاص وړاندې کوي.

تاسې ته د هوس پراود له خوا یو سلاکار ځانګړی کېږي. دوی به درسره وغیږي چې د ترمیم، اصلاح یا په کور کې د بدلون کومو کارونو ته اړتیا لرئ. هغوي به وګوري چې ایا تاسې د دې یا کومې بلې پروژې له مخې د مرستې وړتیا لرئ که څنګه.

کونسل به سلا کار ستاسې کور ته در ولیږي چې وګوري کومو کارونو ته اړتیاشته او څومره لګښت به پرې راشي. کله چې موافقه وشوه چې د کار لګښت به څنګه ورکوئ، کونسل به یو ښه ودانونکی یا ختګر پیدا کړي او کار به پیل شي. کونسل به دغه راز د کار په پای کې هغه و ګوري چې سم تر سره شوی وي.

## د کار لګښت به څنګه ورکوم؟

هواس پراود د داسې پورونو ترلاسه کولو ته لار برابروي چې هم ارزانه دي او هم بې خطره، او په ځانګړي توګه د زړو او معیوبوخلکو له اړتیاوو سره برابر دي.

د هوس پراود له لارې ستاسې د کور د بیې یوه برخه کېدی شي په پور بدله شي چې د کار لګښت پرې کړئ. ستاسې انفرادي حالت ته په پام سره پرېکړه کیږي چې کوم ډول پور تاسې لپاره تر ټولو ښه دی. په ځینو موارد کې ضرور نه ده چې دا پور د خپل ژوند په موده کې بېرته ورکړئ. پر ځای یې کله چې ستاسې کور په پاي کې پلورل کېږي، هغه پیسې چې تاسې پور کړي، د هغو له سود سره یو ځای، د کور له بیې بېرته اخیستل کیږ ي.

کله مو چې معلومه کړه څومره پورو ته اړتیا لرئ، د اخیستلو ټول کارونه به یې مونږ سمبال کړو.

## که پور ته اړتیا ونه لرم؟

هیڅ خبره نه ده. که غواړئ چې له خپلو سپماوو نه د کار لګښت ورکړئ او یا ورته له کوم بل ځایه پیسې براوئ، بیا هم کولی شئ د هوس پراود خدمتونه د پور له اخیستو پرته وکاروئ.

## کوم ډول پورونه شته دي؟

تاسې لپاره د پور اخیستو درې لوېې لارې دا دي:

- ❑ د پانګې د پرېښولو پور
- ❑ د یوازې سود پور
- ❑ د پانګې او سود د بېرته ورکړې پور

د پانګې د پرېښولو پور:
په دې ډول پور کې تاسې دې ته اړتیا نه لرئ چې په منظمه توګه يې بېرته ورکړئ.

دا پور يوازې هغه وخت بايد بېرته ورکړل شي چې نور نو کور ستاسې د اوسېدو اصلي کور نه دي او خرڅېږي. کله چې ستاسې له مړينې وروسته کور خرڅ شو، بانک يا بلډنګ سوسايټي به د اصلي پور پيسې (پانګه) له پرې ورزيات شوي سود سره د کور د له بيې نه واخلي. کوم څه چې پاتې کېږي هغه به دې پورې اړه ولري چې په دغه موده کې ستاسې د کور په بيه کې څومره بدلون راغلی.

خو که وغواړئ، تاسې کولی شئ له مخکې نه د پور بېرته ورکړه پيل کړئ. تاسې د ټول پور او د وربانديې راغلي سود د بېرته ورکولو انتخاب هم لرې. د دې لپاره کومه جرمانه نشته ده، پرته له لومړي کال څخه چې ښايي د تر دوو مياشتو سود په اندازه تاوان دربانديې راشي.

دا پور د هغو يوازې کسانو يا جوړو لپاره دی چې عمر يې 75 کاله يا ترې پورته وي. جوړې (مېړه اوښځه) بايد ورته ګډ غوښتنليک وسپاري.

که غواړئ چې کور مو بدل او ياپې خرڅ کړئ او يا غواړئ چې د کورنۍ کوم غړي ته مو په ميراث پاتې شي، وګورئ چې کوم ډول قسط ستاسې اړتياوې در پوره کولی شي.

د يوازې سود پور:
يوازې د پور سود هره مياشت ورکول کېږي. کولی شئ تر هغه چې کور خرڅيږي تاسې دا سود ورکړئ. د پور اصلي پيسې (پانګه) نه کمېږي او هغه وخت بېرته اخيستل کيږي چې تاسې نور نو په کور کې ژوند ونه کړئ او خرڅ شي.

کله چې کور خرڅ شو، بانک يا بلډنګ سوسايټي به د پور اصلي پيسې له پاتې سود سره يو ځای د کور د خرڅلاو له پيسو د پور د خلاصولو لپاره وګرځوي.

کولی شئ هر وخت چې وغواړئ د پور خلاصول پيل کړئ. د پور تر خلاصېدو به تاسې د هغو پيسو سود ورکوئ چې لاهم دربانديې پور دي.

تاسې هر وخت کولی شئ چې ټول پور او وربانديې راغلی سود له کومې جرمانې پرته بېرته ورکړئ، پرته له لومړي کال نه چې ښايي د تر دوو مياشتو سود په اندازه تاوان دربانديې راشي.

دا پور يوازې د هغو يوازې کسانو يا جوړو لپاره دی چې عمر يې 60 کاله يا ترې پورته وي يا د هغو کورنيو لپاره چې کوم معيوب کس ولري، عمر يې چې هر څومره وي.

د پانګې او سود د بېرته ورکړې پور:
دا پور يوه ساده او مخامخ بڼه ده. هغه پيسې به چې هره مياشت يې ورکوئ هم سود او هم د اصلي پيسو يوه برخه چې تاسې پور کړي (پانګه) خلاصوي.

تاسې له پور ورکونکي سره جوړېږئ چې د څومره وخت لپاره پيسې په پور اخلئ. هر څومره يې چې موده لنډه وي هغومره به مياشتنۍ بېرته ورکړه لوړه وي، خو څرګنده ده چې پور به هم هغومره ژر خلاص شي.

دا پور د هغو يوازې کسانو يا جوړو لپاره دی چې عمر يې 60 کاله وي يا د هغو کورنيو لپاره چې کوم معيوب کس ولري، عمر يې چې هر څومره وي.

د پور د سود اندازه به څومره وي؟
د مورګېج يا پور سود به له وخت سره بدلون مومي. په رسمي وړانديز که به تاييد شي چې کله پور اخلئ، څومره سود به پرې راځي. کله چې د سود کچه بدليږي تاسې ته به خبر درکړل شي.

څنګه پرېکړه کولی شم چې څه وخت مالپاره د پور اخيستل ښه دي؟
څرنګه چې مونږ تاسې لپاره يو سم انتخاب غواړو، هوس پراود د يوه خپلواک مالي سلاکار خدمتونه وړيا وړاندې کوي. د هغو ليکلی ريپوټ به سپارښتنه وکړي چې کوم مالي انتخاب ستاسې لپاره تر ټولو ښه دی. مونږ همدا راز تاسې هڅوو چې له خپلو کورنيو سره او که لازم وي له خپل قانوني سلاکار سره پر شته لارو وغږېږئ.

ما د نورو پلانونو یاطرحو په اړه د اندېښنې وړ خبرونه اوریدلي. د دغه پلان په اړه څنګه ډاډه اوسېدلی شم؟
د هوس پراود تر شا ستاسې د سیمې کونسل او شریکان یې ولاړ دي چې یوازینی هدف یې دادی چې تاسې وشئ کولی په خپل کورکې خپلواک او خوندي ژوند ته دوام ورکړئ.

## ایا د کور د له لاسه ورکولو خطر شته؟
له هوس پراود سره هېڅ کله ستاسې کور په خطر کې نه لویږي. ټولوپورونوکې پوره تضمین شته چې تر هغه چې تاسې په کور کې اوسېږئ، هغه به در څخه نه نیول کیږي.

## څومره پور تر لاسه کولی شم؟
ستاسې عاید او د کور بیې ته په پام سره د پور د څومره والي په اړه پریکړه کیږي. معمولا دا له £3,000 نیولې بیا ستاسې د کور د اوسني ارزښت تر په سلو کې دېرشو پورې رسېږي.

مونږ یوازې غواړو، خپله ستاسې د ګټې لپاره، ډاډ تر لاسه کړو چې که تاسې د بېرته ورکړې پور غوره کوئ، وشی کولی چې ځان باندې د ډېرې سختۍ له راوستلو پرته داپیسې ورکړئ.

## ایا بیمې ته اړتیا شته؟
هو. که د خپل کور پر سر پور تر لاسه کوئ، کور باید بیمه شوی وي.

د پانګې د پرېښولو د پور په اړه که ستاسې بیمه له پورورکونکي پرته کوم بل شرکت سره وي، نو ښایي چې بانک یا بلدنګ سوسایټي ته د قرار داد د یوې برخې په توګه دکال £10 اداري لګښت ورکړئ. د نورو پورونو لپاره، که بانک یا بلدنګ سوسایټي بیمه سمبال نه کړي، ښایي یو ځل £25 درنه واخلي.

## ایا روغتیایي کتنې هم پکار دي؟
معمولا ستاسې د روغتیا په اړه کومو شواهدو ته اړتیا نه وي، خود هغو کسانو لپاره چې عمر یې له 60 کم وي مونږ یو تصدیق ته اړتیا لرو چې ووایي په کور کې یې کوم معیوب کس شته دی.

## زه د معیوبیت مرسته ترلاسه کوم، ایا لاهم کولی شم د هوس پراود پور واخلم؟
هو، که تاسې د معیوبیت مرسته تر لاسه کوئ، هوس پراود اکثرا کولی شي مالي مرسته در سره وکړي چې د کار هغه لګښت چې تاسې یې باید ورکړئ، یا د اضافي کار چې د معیوبیت په مرسته کې نه راځي لګښت ورکړئ.

## د عمر برید څومره دی؟
که تاسې د پانګې او سود د بېرته ورکړې پور یا یوازې د سود د ورکړې پور اخلئ باید 60 کلن یا ترې پورته و اوسئ او یا په کور کې کوم معیوب کس ولرئ. د کورونو د زړو خاوندانو لپاره ، معمولا د هغو کسانو لپاره چې عمر یې 75 کاله یا پورته وي، د پانګې د پرېښولو پور شته دی.

## ایا نور لګښتونه هم شته دي؟
ځېنې نور لګښتونه شته چې د ارزونې او د قانوني او اداري چارو فیس پکې راځي. هوس پرواد د دغو فیسونو په اړه ځانګړې خبرې کړي چې ارزانه یې کړي. د پور د اخیستلو په اړه له پرېکړې وړاندې به د دغو فیسونو په اړه خبر درکړل شي. تر هغه چې د پور درکولو په اړه پرېکړه نه وي شوي، د دغو لګښتونو ورکول پرتاسې نه دي، او کیدی شي دا فیسونه هم په پور کې شامل شي چې تاسې د خپلو سپما کړو پیسو لګولو ته اړ نه شئ. خو د دغو لګښتونو د پوره کولو لپاره کېدی شي مالي مرسته ترلاسه کړئ. ستاسې د هوس پراود سلاکار به په دې اړه نور ډېر معلومات درکړی شي.

## کوم ډول کارونه د هوس پراود په پروژه کې تر سره کېدي شي؟
ځینې بېلګې یې دا دي:

- ❑ نوی تشناب
- ❑ د برېښنا د لینونو نوي کول
- ❑ مرکز ګرمي
- ❑ د بام نوي کول
- ❑ د دروازو او کړکیو بدلول
- ❑ نوې ناوې
- ❑ نلونه
- ❑ د پخلنځي نوي کول
- ❑ د کور د امنیت ښه کول
- ❑ که په کور کې معیوب کس ولرئ له هغه سره د مرستې لپاره د بدلونونو راوستل
- ❑ په کور کې د انرژۍ د اغېزمنتیا ښه کول

هوس پراود څه ورکولی شي:

- ستاسې د هوس پرواد خپل سلاکار له خوا ځانګړې مرسته او ملاتړ
- د یوه خپلواک مالي سلاکار تخصصي لارښونه
- دتخنیکي کارکونکو خدمات، چې ستاسې د کور لیدل او د لګښت او د کار د وخت د اندازې لګول هم پکې راځي
- **ښه او د ډاډ وړ کور جوړونکي**
- د ودانولو د کار سمه څارنه . جوړونکو ته یوازې هغه وخت مزد ورکول کېږي چې کار په قانع کونکي معیار ترسره کړي.

ایا نور معلومات هم غواړئ؟
یوازې ضمیمه شوی کارد، چې پوستي بیه یې له وړاندې ورکړل شوې، ډک کړئ او یا پر 0800 7837569 شمېرې وړیا ټېلفون وکړئ او مونږ به د هوس پرواد یوه معلوماتي بسته او ویډیو وړیا در ولېږو.

هېڅ غوښتونکي سره به د هغه د نژاد، رنګ، توکمیز یا ملي اصلیت، جنس، مدني حال، جنسي تمایل، عمر یا معیوبیت له امله له هوس پراود سره په اړوندې هېڅ مسله کې توپیر ونه شي.

دا لارښود باید له جلا ضمیمو سره چې د سود د کچې په اړه پکې معلومات شته ولوستل شي. که وغواړئ، په لېکلې بڼه نرخ تر لاسه کولی شئ.که ضمیمې نه وي، لطفا پر 0800 783 7569 وړیا ټېلفون وکړئ.

که مو د خپل کور په ضمانت مورګېج یا نور پورونه ترلاسه کړي وي، او په بېرته ورکولو کې یې پاتې راشئ، نو کور مو په خطر کې دی.